**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱٦۹** (از ۲۹ جوزا الی ۵ سرطان ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه........................................................................................... ۲


## د کډوالو نړیواله ورځ او افغان کډوال په نړۍ کې


- په نړیواله کچه د کډوالو وضعیت.................................................................. ۳
- په نړۍ کې د افغان کډوالو وضعیت.................................................................. ۴
- په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو وضعیت....................................................... ۴
- په اروپا کې افغان پناه غوښتونکي................................................................... ۵
- د داخلي کډوالو لوړه کچه........................................................................... ۵
- افغان کډوال؛ د کابل-اسلام‌آباد د سیاستونو قرباني!................................................... ٦
- د کډوالو په اړه د افغان حکومتونو تګلاره............................................................ ۷

## مقدمه

د تېر کال په جریان کې د افغان کډوالو قضیه په هېواد کې دننه او نړیواله کچه د ملتونو او حکومتونو د پام وړ او نړیواله قضیه وه. د کډوالو د نړیوالې ورځې (جون ۲۰) له رارسېدو سره، په ګاونډیو او اروپایي هېوادونو کې د افغان کډوالو د لوړ شمېر او ناسم وضعیت او همدا راز په هېواد کې دننه زیات شمېر بې‌ځایه شویو افغانانو قضیه یو ځل بیا د ملي او نړیوالو رسنیو له سرټکو څخه وه.

افغان ولسمشر د کډوالو د نړیوالې ورځې په مناسبت خپل پیغام کې له هېواده بهر د میلیونونو افغانانو د کډوالۍ له کبله افغانستان نابشپړ وباله او د افغان کډوالو بېرته راستنېدل یې هم په هېواد کې د سولې له ټینګښت، ثبات او پرمختیا سره تړلي وبلل. اجرائیه ریاست هم د یوې ویناپاڼې په خپرولو سره، په نورو هېوادونو کې د افغان کډوالو د ستونزو هواري او باعزته راستنېدو ته ژمنتیا ښودلې ده.

د کډوالو د نړیوالې ورځې په پار، په نړۍ کې د کډوالۍ عمومي وضعیت، په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو شمېر او وضعیت، په نوره نړۍ کې د افغان کډوالو وضعیت او همدا راز داخلي بې‌ځایه شویو کډوالو په تړاو، د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل څانګې، شننې او څېړنې لولئ.

# د کډوالو نړیواله ورځ او افغان کډوال په نړۍ کې




د جون ۲۰مه (۲۰۱٦) د تېر په څېر په نړۍ کې د کډوالو د ورځې په توګه ونمانځل شوه. خو په ۲۰۱٦ کال کې په نړیواله کچه کډوال نه یوازې دا چې په بد وضعیت کې دي، بلکې شمېره یې هم د بل هر وخت په پرتله، زیاته شوې ده.

په بل اړخ کې په پاکستان کې له افغان کډوالو سره سیاسي چلند کېږي او د پاکستان حکومت پر کابل د فشار په موخه یو ځل بیا «افغان کډوال» د یوه سیاسي ابزار په توګه استعمالوي.

دا چې په ټوله نړۍ کې څومره خلک کډوال دي؟ د دوی وضعیت څه ډول دی؟ او وروستیو سیاستونو او بدلونونو په پاکستان کې د افغان کډوالو پر وضعیت څه ډول اغېزې کړې؟ دلته پرې شننه کوو.

## په نړیواله کچه د کډوالو وضعیت

په نړیواله کچه د کډوالو، پناه غوښتونکو او داخلي بې‌ځایه شویو کچه ډېره زیاته شوې او دغه شمېره اوس له ٦٥ میلیونو څخه اوښتې ده. د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د معلوماتو له مخې، د ۲۰۱۴ کال په پرتله اوس

(۲۰۱٦) دغه شمېره لس سلنه زیاته شوې ده. په ۲۰۱۴ کال کې په نړۍ کې په زوره د بېځایه شویو کډوالو کچه ۵۹.۵ میلیونه تنه وه، چې اوس دا کچه ٦۵.۳ میلیونه تنو ته لوړه شوې او په ورځني ډول تقریباً ۳۳۹۷۲ تنه خلک د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کېږي.

په بل اړخ کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري د ارقامو له مخې، د هغو کډوالو شمېره چې په نورو هېوادونو کې استوګن دي، ۲۱.۳ میلیونه تنه دي. د دغو کډوالو ډېره برخه (۳۹سلنه) په منځني ختیځ او شمالي افریقا کې، ۲۹ سلنه په افریقا کې، ۱۴ سلنه په اسیا او پاسفیک کې، ۱۲ سلنه په شمالي او جنوبي امریکا کې او ٦ سلنه په اروپا کې استوګن دي، چې د دوی تقریباً ۵۴ سلنه له سوریې (۴.۹ میلیونه)، افغانستان (۲.۷ میلیونه) او سومالیې (۱.۱ میلیونه) سره تړاو لري.

د کډوالو د کوربه هېوادونو په لیکلړ کې هم اسلامي هېوادونه په سر کې ځای لري او په لومړیو پنځو هېوادونو کې تر ټولو زیات ۲.۵ میلیونه په ترکیه، ۱.٦ میلیون په پاکستان، ۱.۱ میلیون په لبنان، ۹۷۹۴۰۰ تنه په ایران، ۷۳٦۱۰۰ په ایتوپیا او ٦٦۴۱۰۰ تنه په اردن کې استوګن دي.

دغه کډوال په ټوله نړۍ کې په خورا بد وضعیت کې دي او تقریباً ۱۰ میلیونو ته یې د تابعیت ورکول رد شوي او همدا راز بنسټیز حقونه لکه زده‌کړې، روغتیايي خدمات، کار او د تګ-راتګ ازادي یې هم پایمال شوې ده.

## په نړۍ کې د افغان کډوالو وضعیت

کډوالي د نورو ننګونو ترڅنګ ملي وحدت حکومت ته یوه تر ټولو مهمه ننګونه ده. ځکه نه یوازې په هېواد کې د ناامنیو له کبله خلک اروپا ته ځي او هلته هم په خورا بد وضعیت کې وي، بلکې په ګاونډیو هېوادونو کې هم له ۳ میلیونو څخه زیات افغان کډوال له پراخو ننګونو سره مخ دي او پر افغان حکومت د زیات فشار لامل شوي دي. د دغو کډوالو بېرته راستنول او دلته ځای پرځای کول یې بله ننګونه ده. همدا راز په هېواد کې دننه بېځایه شویو کډوالو شمېره هم لوړې کچې ته رسېدلې ده.

**په ګاونډیو هېوادونو کې د افغان کډوالو وضعیت:** د افغانستان د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر سید حسین عالمي بلخي، د کډوالو د نړیوالې ورځې په مناسبت په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل، چې اوس هم په نړۍ کې د افغان کډوالو شمېره ۷.۲۳ میلیونه تنه ده، چې د دغو کډوالو ډېره برخه بیا په پاکستان او ایران کې استوګن دي.

په پاکستان کې د راجستر شویو افغان کډوالو د کارډونو موده هم په روانه میلادي میاشت کې پای ته رسېږي او د کارډونو د اعتبار نېټې د غځولو په اړه لا هم کوم گام نه دی اخیستل شوی. که څه هم د پاکستان حکومت له افغان حکومت سره ژمنه کړې وه، چې د افغان کډوالو د کاردونو موده به د دوو کلونو لپاره غځوي. همدا راز د ناراجستر شویو افغان کډوالو په اړه هم د پاکستان حکومت تېر کال ژمنه کړې وه، چې دغه ناراجستر کډوال به د ۲۰۱٦ کال د جنورۍ تر پای پورې راجستروي؛ خو دا دی پر جنورۍ پنځه نورې میاشتې هم اوړي خو پاکستان لا تر اوسه د دغو کډوالو د راجسترولو په اړه څه نه دي کړي.

په بل اړخ کې که څه هم په ایران کې د ۸۴۰ زره افغان کډوالو د «آمایش» په نوم د کډوالۍ کارډونه او د ۵٦۰ زره کډوالو اقامت تمدید شو او په ۲۰۱۵ کال د راجستر شویو افغان کډوالو بېرته راستنیدل هم د تېرو دوو کلونو په پرتله کم شول؛ خو بیا هم په مجموع کې د سوریې جگړې ته د افغان کډوالو استول او په ۲۰۱۵ کال کې په اجباري ډول د ناراجستره افغان کډوالو بېرته راستنول د کډوالو په برخه کې افغان حکومت ته ننگونه وه.

**په اروپا کې افغان پناه غوښتونکي:** په ۲۰۱۵ کال کې په اروپایي هېوادونو کې تقریباً ۲۵۰ زره افغان کډوالو پناه غوښتنه وکړه، چې د ۲۰۱٦ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې دغه شمېره بیا یوازې ۳۹۴۳۹ تنه شوه او داسې د ۲۰۱۵ کال په پرتله په ۲۰۱٦ کال کې اروپا ته د افغانانو د کډوالۍ کچه راټیټه شوه. که څه هم د افغانستان د کډوالو وزیر د دې چارې عوامل په هېواد کې دننه د زیربنایي پروژو پیلېدل، د ناټو او امریکایي ځواکونو پاتې کېدل او د امنیتي وضعیت ښه کېدل گڼلي؛ خو اروپا ته د افغانانو د کډوالۍ راکمېدو ترشا د اروپایي هېوادونو تبعیضي چلند او د کډوالو پرضد ورځ تربلې د اروپایي هېوادونو سختېدونکي دریځونه دي. له همدې ځایه ده، چې د ۲۰۱٦ له لومړۍ میاشتې تر اوسه ۳۵۵۷ تنه په خپله خوښه بېرته هېواد ته راگرځېدلي دي.

**د داخلي کډوالو لوړه کچه:** د بښنې نړېوال سازمان په افغانستان کې دننه بې‌ځایه شویو کډوالو په اړه، په خپل تازه راپور کې ویلي، چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله په افغانستان کې د داخلي بې‌ځایه شویو کچه تقریباً درې چنده لوړه شوې ده. د دغه راپور موندنې ښیي، چې په ۲۰۱۳ کال کې تقریباً ۵۰۰ زره کسان د هېواد دننه بې‌ځایه شوي وو؛ خو دغه کچه په ۲۰۱٦ کال کې د امنیتي وضعیت د خرابوالي له کبله ۱.۲ میلیونو ته لوړه شوې ده.

**افغان کډوال؛ د کابل-اسلام‌آباد د سیاستونو قرباني!**

په تېرو څو لسیزو کې له افغان کډوالو سره د پاکستاني حکومت چلند تر ډېره د کابل-اسلام‌آباد د سیاستونو تر اغېزو لاندې و؛ خو په وروستي یوه نیم کال کې افغان کډوال د دوو پېښو له کبله ډېر اغېزمن شول. په پاکستان کې ډېرى مهال چې کومه امنیتي پېښه وشي، نو د حل لارې په توګه افغان کډوال، چې هېڅ له پېښې سره تړاو هم نه لري، قرباني کېږي.

د ۲۰۱۴ کال په ډسمبر میاشت کې د پېښور پر یوه پوځي مکتب خونړی برید وشو، د دغه برید په غبرګون کې له افغان کډوالو سره ناوړه چلند وشو، چې له کبله یې بیا په ۲۰۱۵ کال کې تقریباً ۵۸۴٦۰ تنه راجستر شوي افغان کډوال له پاکستانه راستانه شول. په بل اړخ کې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ میاشتې له لومړۍ نېټې څخه تر وروستۍ میاشتې پورې تقریباً ۱۱۹۲۷۹ تنه ناراجستره افغان کډوال افغانستان ته د پاکستان د بدلېدونکو حالاتو او پرېکړو له کبله راوګرځېدل. د دوی ډېره برخه (۹۷۱۲۴ تنه) د تورخم له لارې او نور یې (۲۲۱۵۵ تنه) بیا د سپین بولدک له لارې هېواد ته راستانه شول.

له دغو ناراجستر شویو افغان کډوالو څخه له یو لکو څخه زیات (۱۰۰۰۴۲ تنه) په خپله خوښه او له ۱۹ زرو څخه زیات (۱۹۲۳۷ تنه) بیا په اجباري ډول راولېږدول شول.

همدا راز په دې وروستیو کې د تورخم د دروازې د جوړولو پر سر د افغان او پاکستاني ځواکونو ترمنځ تر درېیو ورځو پورې خونړۍ نښتې وشوې، چې دواړو خواو ته یې تلفات هم واړول. د دغې پېښې په غبرګون کې پاکستاني پولیسو په خیبر پښتونخوا کې چاپېز عملیات وکړل، چې له کبله یې تقریباً ۲۵۴ تنه افغان کډوال په زوره افغانستان ته ستانه کړل او په تېرو دوو اوونیو (جون ۲۰۱٦) کې یې تقریباً ۱۲۰۰ افغان کډوال نیولي دي.

د دې ترڅنګ د وروستیو اتو میاشتو کړکیچنو او ښکته پورته کېدونکو دوه‌اړخیزو اړیکو له کبله د راجستر شویو افغان کډوالو د کارډونو د اعتبار موده نه ده غځول شوې او نه هم د پاکستاني چارواکو له ژمنې سره سم، ناراجستره افغان کډوال راجستر شوي دي.

په بل اړخ کې د تورخم له وروستۍ نښتې وروسته پاکستاني لوړپوړي چارواکي د افغان کډوالو په اړه په داسې حال کې بیا تودې څرګندونې کوي، چې افغان حکومت له پاکستانه غوښتي، څو افغان کډوال په پاکستان کې تر ۲۰۲۰ کال پورې پاتې شي. په بهرنیو چارو کې د پاکستان لومړي وزیر مرستیال طارق فاطمي رسنیو ته

وویل، پاکستان به نور د افغان کډوالو کوربه نه شي. همدا راز د پاکستان ولسمشر ممنون حسين هم تېره اوونۍ د افغان کډوالو د ژر تر ژره بېرته ستنېدلو غوښتنه وکړه.

## د کډوالو په اړه د افغان حکومتونو تګلاره

په وروستيو ۱۵ کلونو کې د افغان کډوالو په تړاو د افغان حکومتونو تګلاره تر يو لړ فرمانونو، ښارګوټو جوړولو او نومرو وېشلو، د کډوالو په اړه پاليسۍ جوړونې، او وخت ناوخت ګاونډيو او اروپايي هېوادونو ته د لوړ پوړو افغان چارواکو هغه سفرونه وو، چې د کډوالو د ستونزو د هواري په موخه يې دغو هېوادونو ته کړي دي.

تر اوسه افغان حکومت د کډوالو په اړه کومه جامع او روښانه دريځ او تګلاره نه لري، بلکې هر ځل يې کوښښ دا وي، چې له ګاونډيانو سره د کډوالو موضوع او ستونزه د افغان کډوالو د پاتې کېدلو د نېټې په غځولو سره حل کړي.

که څه هم په تېرو کلونو کې افغان حکومت د کډوالو په نوم ٦٢ ښارګوټي جوړ کړي؛ خو تر اوسه له کډوالو څخه يو ښارګوټي هم نه دی جوړ شوی، بلکې دغه د ښارګوټو پروژه تر ډېره ناکامه وه. د دې چارې د ناکامۍ بل لامل دا هم دی، چې تر اوسه په دغو ښارګوټو کې د حکومتي شمېرو له مخې شاوخوا ۵۰ زره نومرې وېشل شوې، چې دا بيا د کډوالو کچې ته په کتلو سره هم ډېره کمه شمېره ده.

همدا راز هغه محدوده پاليسي چې افغان حکومت جوړه کړې، تر ډېره عملي شوې نه ده.

پای

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امين، رئيس مرکز مطالعات استراتژيک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.